سرلوڅ مرادزی

۱۸ / ۰۱ / ۲۰۱۲

# نوی کال او نوی فرصتونه

د بن د دوهم کنفرانس او سلاکارۍ لويي جرګې په درشل او له هغې روسته ، سيمه او په کور دننه افغانستان د نويو تغيرونو او بدلونونو سره مخامخ دی . په ټوليزه توګه دا تغييرونه د افغانانو په خير او ګټه شمېرلی شو او د افغان دولت په وړاندې يې نوي فرصتونه او افقونه مخې ته ايښې دي. خوکه د نويو فرصتونو او پرانيستو افقونو په محاسبه کې افغان دولت ختاوځي او له هغو څخه د سولې او امنيت په راوستلو او افغانانو ته د ښې ادارې او خدماتو په وړاندې کولو کې د پخوا پشان ناغيړي وکړي ، دا فرصتونو هسې له لاسه وځي او افغانان به بله پېړۍ انتظار باسي چې که بيا داسې مناسب فرصتونه ترلاسه کړي !

د نوي کال په راتګ د خپلو ټولو ناولتياوو ، فساد او ديماګوګ سياست ( هغه سياست چې ولس تېرباسې ) سره سره بيا هم دا افغان دولت نه دی چې د ځينو په اند ، د بن بست سره مخ دی بلکې د افغان مرکزی دولت په وړاندې په کور دننه ورانکاري او سيمه يز مخالفين دي چې د بن بست ، غوڅې ماتې او رسوايۍ سره مخ دي .

نوي کال کې پاکستان چې د افغانانو تاريخي بدخوا دی ، په کور دننه په سختو ستونځو او شخړو کې ډوبيږي . پاکستانۍ ټولنه چې د پوځيانو او ملکي بدماشانو په ۶۰ کلن يرغمل کې ښکېل ده بلاخره دې ته اړ شوې چې د دوی ګريوانونو ته لاس ورواچوي . د پاکستان د واک د درې ګونو قواو ترمنځ شخړه ، د رسنيو د رسوايۍ له کچې اوړي او په کورني تاوتريخوالي بدليږي . د رسنيو په روستۍ وينا د پاکستان د ملکي حکومت او پوځ تر منځ کړکېچ اوج ته رسېدلی .

د پاکستان پوځ چې د دغه هيواد په پنځه شپېته کلن تاريخ کې څلور کودتاوې کړي او لا هم باوري دی چې د پاکستان د ګټو او ساتنې دفاع کوي ، له پيل څخه زرداري ته په ښه سترګه نه دي کتلي .

د پاکستان دولتمشر زرداري لا څلور کاله وړاندې د ۲۰۰۷ کال د ډېسمبر په ۲۷ مه د خپلې ميرمن بېنظير بوټو د جنازې په مراسمو کې ويلي وو ، پوځيان چې موخه يې هغه مهال پرويز مشرف و، نه غواړي پاکستان روغ رمټ پاتې شي په داسې حالت کې پيپلزپارټې هم د پاکستان د سلامتيا ذمه واره نه ده .

« يو ياداشت چې د جنوري په ۱۷ مه خپور شوې په هغه کې د پاکستان سترې محکمې، لومړي وزير يوسف رضا ګيلانی ته ويلي چې عدالت ته يی سپکاوی کړی او د محکمې امريې نه دی تعقيب کړی چې په ولسمشر زرداري باندی د اداري فساد تورونه را وسپړي. دغه ياد داشت لومړي وزير ګيلاني ته امرکوي چې د جنورۍ په ۱۹ دي محکمې ته حاضر شي. که چيري په محکمه کې مجرم وخوت ، نو ښاغلی ګيلانی بندی کيدی او د صدارت له مقام څخه ليري کيدلی شي .

قاضيان حکومت څخه غواړي چې پر ولسمشر اصف علي زرداری د اداري فساد تورونه چې د ۱۹۹۰ د لسېزې د وخت تورونه دي بيا را وسپړي. امريکا غږ »

خيبر پښتونخوا کې هم د پوليسو په اډو باندې بريدونه ، د شيعه او سنيانو په منځ کې وسلوالې نښتې ، د بلوچيستان کړکېچن حالات او په هغه ايالت کې د پوليسو پر چونيو د بلوڅو د خپلواکۍ غورځنګ يرغلونه که پر پاکستاني ولس باندې د اقتصادي ستونځو او پرګنيزو وزګاريو او بېکاريو سره يوځای شي ، د پاکستان راتلونکې نوره هم پيکه او تتولای شي .

همداراز د پاکستان د پوځ او ملکي حکومت او سترې محکمې ترمنځ جنجالونه په داسې حال کې ادامه لري چې وسله والو طالبانو هم په پاکستان کې حملو ته دوام ورکړی دی.

د جمعې په ورځ وسله والو طالبانو په شمالي وزيرستان کې د پوليسو پر يوه ماموريت بريد کړی ، درې پوليس يې وژلي او نه تنه نور يې ژوبل کړي دي .

بلخوا يو شمير سياسي شنونکي په دې اند دي چې ښايي له امريکا او جرمني سره د طالبانو د سولې د خبرو له توديدو سره سم د طالبانو وسلوال مقاومت په دوه برخو وويشل شي.

هغوی وايي چې د طالبانو تنظيم به څکه په دوه ډلو وويشل شي چې د ملاعمر ښاخه يې د سولې پلوې کوي خو د پاکستان د ای اس ای ترمستقيم اغيز لاندې طالبان به هيڅکله هم د پاکستان له امره پرته د سولې خبرو ته حاضر نه شي.



افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

همدارنګه د اسلامي ګوند مشر ګلبدین حکمتیار چې تر نورو مخکې د باد لګېدا لوری حسولای او مالومولای شي ، نوې وضعې ته په پام کابل حکومت ته د همکارۍ په وزرو او امریکایانو ته په نوي چوپړد لګۍ په ښورولو راضي ښکاري .
د پاکستان د کورنې وضعې په خرابېدو سره ، د وخت یاران نور نه غواړي چې هلته زیات تم شي او افغانستان کې د چوکیو او نوروغنایمو په ویش کې د ګډون فرصت له لاسه ورکړي .
بلخوا په کور دننه د برهان الدین رباني له مرګ روسته چې په مناسبه سزا ورسید جمعیت ، نظارشورا او د هیواد په شمال کې د پخوانۍ ټلوالې نور ډاکوان یتیم ، بې سرپرسته او مړژواندې ښکاري . دوی په اخرو دوه درې میاشتو کې هیواد کې دننه او بهر ډېرې منډې ترړې وکړې ، خو یوې هم سر ونه نیو . لومړی یې د سلاکارې لویې جرګې د پرانیستلو سره مخالفت وکړ. خو کله یې چې ولیدل د دوی له ګډون پرته هم هغه جرګه جوړه شوه ، روسته یې یوې ځانګې د جرګې پریکړې ومنلې او بلې ځانګې د پخوا پشان ځان مرور وساته .
دوی په قطر کې د طالبانو ، دولت او نړیوالو له خبرو سره هم چې هیواد کې د سولې او ټیکاو په موخه کیږي، وارختا دي . د همدې وارختایۍ له کبله یو شمېر یې لکه ضیا مسعود ، محقق ، دوستم او امرالله په بډو ګوتې ووهلې او تر برلین پورې په یوه منډه ، ساو تیګا ورسېدل . هلته هم دوی چې کومې خبرې له امریکایانو او جرمنانو سره کړې او په هغو کې یې د پردیو سرتېرو او پوځې لګښتونو په بیه افغانستان کې د جګړې اور تلپاتې غوښتی ، اوس ددې خبرو حال د افغانانو له ډاره چا ته ښکاره نه شي ویلای . دا چې وایی « خاین ، ډارن وي » دوی چې هلته د سولې نه منلو او د هیواد پاشلو په نیت تللي وو لومړی په لاره کې دوه ځایه شول . یوې ډلې یې په غونډه کې له ګډون څخه انکار وکړ . دوهمه ډله چې په ځان ډاډه ښکاریده او د برلین په کرغېړنه غونډه کې یې ګډون وکړ د افغانانو له پراخ غبرګون څخه روسته پخپلو کړو خبرو یا خپله منکر او یا د خپلو ویاندانو په خوله منکر شول . د دوستم ویاند ذکی وویل ، چې د ملي جنبش پلویان په برلین کې د دوستم خبرې نه مني او هغه یوازې د دوستم خپلې خبرې دي او د ملي جنبش پریکړه هسې نه ده .
اوس له دوی څخه پوښتنه دا ده ، کله چې دوی خپلو تنظیمونو ته هغه خبرې چې دوی په برلین کې کړی دی نه شي کولای نو دا خبرې به نورو افغانانو ته څنګه ووایي !
د برلین کرغېړنې غونډې د افغانانو د یووالي دوښمنان او د افغانستان بدخواهان دومره رسوا او ذلیل کړل چې اوس له افغانانو پټ ګرځي !
له نورو خواو هم په ۲۰۱۲ کال کې د افغانانو بخت ویښ ښکاري . ایران د افغانستان بل شرګډی او بدخوا ګاونډی هم په خپلو خولو کې خیشت دی . د اتومي وسلو د جوړښت او په کور دننه د ایراني ولس په زندۍ کولو کې یې د عرب او عجم دوښمنې ځانته ګټلې ده . د ایران دفاع وزیر احمد وحیدي چې څو ورځې مخکې یې د هرموز تنګې د تړلو ګواښ کړی و ، سیمې ته د انګلستان د اوبتل په رسېدلو او د امریکایانو په خوځښت سره خپله خبره بېرته واخیسته او لارې ته راغی . دا چې وایي کبره خوله په سوک سمیږي د ایران په اړه صدق کوي .
په لنډه توګه ویلای شو ، د افغانستان دواړه شریر او مضر ګاونډیان پاکستان او ایران پخپلو کورنیو ستونځو کې ګېر او ښکېل دي او د خپل بدن د زخمونو او ټپونو په څټلو بوخت دي . د دوی کورني بحرانونه افغانستان ته فرصت برابروي چې خپلې ستونځې په سړه سینه حل کړي . همداراز هیواد کې دننه ورانکاري او بېلتونپالې ډلې د افغانانو د قهر او غضب سره مخ دی او د خپل بیا سمون او رغون په کړکېچ اخته دي . د بن له دوهم کنفرانس روسته افغانستان سره د نړیوالو پراخو مرستو ژمنې شوې او د لویې جرګې په سلا او مشوره دولت په نړیوال او کورني ډګر کې د پرانیستی او پراخ لاس خاوند شویدی .
په داسې ګټورو فرصتونو ، دولت کولی شي قطر کې په ځواکمن دریځ طالبانو سره د سولې او امنیت خبرې مخې ته یوسي او بلخوا د ښې او کاري اداري په رامنځته کولو سره افغانستان له موجوده کړکېچه وباسي .
ترڅو چې دولت د فاسدو مامورینو او جهادي ـ مافیایي کړیو څخه ځان ونه ځنډي او سالمې اداري ته پورې نه وځي ، که د نړې ټولې مرستې راسر وي او سیمه هم ټوله فرصت فرصت وي ، ډېره به له ځایه ونه ښوري او د افغانانو به همدغه حال وي څنګه چې دی !

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولۍ